## په جبر سره د هندي ښځو شنډول د ډیموکراسۍ وحشت او په نړیواله کچه د ښځو غلامي په ګوته کوي

په هند کې په زرګونو بېوزلې ښځې ګڼو کښتونو ته د پیسو پیدا کولو په موخه ځي. دوی د شپږ میاشتني قرارداد له مخې د شکر ګنیو د ټانټو پرېکولو ملاماتوونکې چاره مخ ته وړي. یادو ښځو ته پیسې نه ورکول کېږي او ښايي خپلې دندې له لاسه ورکړي، هغه مهال چې دوی د خپلې میاشتنۍ ناروغۍ رخصت اخلي. نو په زرګونو ښځې آن تنکۍ نجونې خپل د اولاد ځای (رحم) د جراحي عملیاتو له لارې له منځه وړي او د یادو عملیاتو ترسره کولو له امله دومره لوړه بیه پرې کوي، چې دوی پور اخیستلو ته اړباسي. دوی ډېری وخت د کمزورو جراحي عملیاتو او تر عملیاتو وروسته د کمزورو طبي پاملرنو له امله سختې معلولېږي یا ناروغېږي.

د هندوستان ټایمز ورځپاڼې د ۲۰۱۹م د جون پر ۱۳ مه راپور ورکړ:« د ۲۰۱۸م په یوه سروې کې چې د بیړ ښار د ښځو په اړه د مهاراشترا دولتي بنسټ لخوا له ۲۰۰ ښځو سره ترسره شوه، ښيي چې ۳٦ سلنه ښځو د رحم د لمنځه وړلو عملیات ترسره کړي دي. په همدې کال د عامي روغتیا ریاست له لوري له ۲۷۱ ښځو سره یوه بله ټولپوښتنه وشوه، چې ښيي ۲۱ سلنه ښځو یاد عملیات ترسره کړي دي. دواړه سروېګانې ښيي چې کابو ۸۵ سلنه یاد عملیات په شخصي روغتونونو کې ترسره شوي دي. د روغتیايي پروژې د روزنې او ملاتړ بنسټ (SATHI) یوه چارواکي ډاکتر ابهی شکولا وویل:« د ملي کورنۍ په نوم روغتیايي بنسټ سروې ( The National Family Health Survey) موندنې ښيي چې د بیړ ښار د عملیاتو شمېر ۱۴ ځله تر ملي منځنۍ کچې څخه ډېر دی، دا د خطر زنګ دی.»

**تبصره:**

نړیواله غلامي اوس هم د باطلو او بې ګټو بشري حقونو د قوانینو د شتون له امله له منځه تلونکې نه ده. د نړۍ په ستر دیموکراسي پلوي هیواد کې، هم په نړیواله کچه منظم انساني قاچاق ترسره کېږي او د ماشومانو د غلامۍ ستونزې پکې شتون لري. د ۲۰۱٦م د غلامۍ نړیوالې ادارې د راپور له مخې ۱۸٫۳ میلیونه خلک په هندوستان کې په معاصره غلامۍ کې ژوند تېروي. په همدې کال کې ۱۵۳۷۹ تنه قاچاق شوي دي چې له دې ډلې څخه یې ۹۰۳۴ تنه له ۱۸ کلونو څخه کم عمر لرونکي کسان دي. د دې ترڅنګ ۲۳۱۱۷ تنه د انساني قاچاقبرانو له منګولو ژغورل شوي چې له دې ډلې څخه یې ۱۴۱۸۳ تنه تر ۱۸ کلونو څخه کم عمر لرونکي دي. ډېرو ژغورل شویو قربانیانو (۱۰۵۰۹ تنو قربانیانو) ویلي، چې د شاقه او درانو کارونو په موخه قاچاق شوي، ورپسې (۴۹۸۰ تنه قربانیان) د جنسي ګټې اخیستنې، (۲۵۹۰ تنه قربانیان) د فزیکي ناوړه ګټې اخیستنې او نورو کارونو په موخه قاچاق شوي دي.

په داسې حال کې چې د غلامۍ په بڼه د بې روزګارۍ سیستم په هندوستان کې په رسمي توګه لغوه او ناقانونه اعلان شوی، خو وروستۍ موندنې ښيي چې همدغه سیستم اوس هم په هندوستان کې دود دی. ټګماران د

هندوستان په لېږي پرتو سيمو کې هغه کورنۍ په نښه کوي چې له اقتصادي اړخه بېوزلې او د دوی مور او پلار هڅوي چې خپلې لوڼې د کاري فرصتونو په موخه له دوی سره ولېږي، په داسې حال کې چې د انساني کرامت خلاف له دوی سره ډېری وخت ناوړه چلند او دوی په ناوړه توګه کارول کېږي. د يادو ښځو ناوړه حالت هغه وخت عادي کېږي کله چې لوېديځې کمپنۍ په کمه بيه ياد کاريګر په دنده ګماري. ځايي حکومتونه د دغو خلکو له چوپتيا او بې وزلۍ څخه ګټه اخلي او خپل خلک د يوه جنس په توګه پيري. د ناوړې ګټې اخيستنې دغه بهير به تر هغه پای ته ونه رسېږي، چې د پانګوالۍ خطرناکه اصول د آزادۍ او آزادخيالو ارزښتونو تر نامه لاندې شتون ولري. څومره نورې ډېرې ښځې به د تلپاتو کړاوونو او معلوليت څخه ځورېږي؟ دې ته په کتو سره ډېری بېوزلې ښځې په دوامداره توګه ناروغه او معلوله کېږي، خو د خصوصي ګټې سيستم (کپيټليزم) يې د دوی حالت بدلولو ته ژمن نه دی. د سمو اسلامي ارزښتونو تر چتر لاندې ښځې حق لري چې ماشومانو ته د شيدو ورکولو(دايي‌توب) له لارې اجوره ترلاسه کړي! د ښځو کار څومره عالي او ارزښتمند دی! د ډيموکراسۍ او آزاد خيالۍ خلاف، الله سبحانه وتعالی ظالمانو ته خپله سزا ورکوي. له ابو دردا رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«قال الله تبارك وتعالى يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا فَلَا تَظَالَمُوا»**

[صحيح مسلم]

الله سبحانه و تعالی فرمايي: اې زما بندګانو! ما پر خپل ځان ظلم حرام ګرځولی او ستاسو په منځ کې هم د ظلم مخه نيسم، له همدې امله يو پر بل ظلم مه کوئ.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**
**ليکواله: عمرانه محمد**
**ژباړه:صديق احمدزی**